هفته واره رساله:276

# عِلمِ دين فضيلتونه

پښتو

بلقيس تخت څنګه راغلے؟

لقمانِ حکيم وصيت

مشکلاتو آسانيدلو نُسخه

علم په فضيلت باندې اقوال



پيشکش:
مجلس المدينة العلميه

ترجمه:
ټرانسليشن ډيپارټمنټ (دعوت اسلامی)

# فهرست

د عِلمِ دین فضیلتونه ........................................................ 1
د دُرُود شريف فضيلت ........................................................ 1
د بلقيس تخت څنګه راغلے؟ ........................................................ 1
د دين ستَن ........................................................ 5
د دين د عالِم معيار؟ ........................................................ 6
د لقمانِ حکيم وصيّت ........................................................ 6
د زړه غِذا ........................................................ 7
لباسِ حياء ........................................................ 8
د ښار د حاکِم سره د ميلاويدو وخت نشته ........................................................ 9
د فضيلت لغوي او اِصطِلاحي معنیٰ ........................................................ 9
د خوښي د څيز طرف ته د رغبت وجه ........................................................ 10
د مال نه بهتر ........................................................ 12
سختي به آساني شي ........................................................ 13
د دين د عالِم وفات کيدل ........................................................ 14
د عِلم د آخِرت فائده ........................................................ 14
د عالم د څلورو حرفونو په نسبت سره څلور حديثونه مبارک ........................................................ 15
د دنيا او د آخِرت د خير نه څه مراد دے؟ ........................................................ 16
د عِلمِ دين په فضيلت باندي مشتمل د بُزرګانِ دين اقوال ........................................................ 16

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د عِلمِ دين فضيلتونه

دُعائے عطار: يا رَبَّ المصطفٰے ! څوک چې دا رساله "د عِلمِ دين فضيلتونه" اولولي که واوري هغوئي له د خپلې رضا د پاره د عِلمِ دين حاصلولو او په دې باندې د اِخلاص سره د عمل کولو توفيق ورکړې او هغوئي بے حسابه اوبخښې-

آمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: مسلمان چې تر څو پورې په ما باندې دُرُود شريف لولي فرښتې په هغه باندې رحمتونه ليږي، اوس د بنده خوښه ده کم لولي او که زيات-

(ابن ماجه،490/1، حديث:907 )

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب          صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بلقيس تخت څنګه راغلے؟

د ملکه بلقيس شاهي تخت اتيا (80) ګزه اوږد او څلويښت (40) ګزه پلَن وو،

دا د سرو زرو او سپينو زرو په قِسما قِسم غمو او ملغلرو ښکلے کړے شوے وو، کله چې حضرت سليمان عَلَیْہِ السَّلَام د بلقيس قاصِد او د هغه ډالئ قبولې نه کړې او هغې ته ئې دا خط اوليږو چې هغه ايمان راوړي او زما دربار ته حاضره شي نو د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام په زړه کښې دا خواهش پيدا شو چې د بلقيس دلته د راتلو نه مخکښې د هغې تخت زما دربار ته راشي- د تخت راغوښتلو نه د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام مقصد دا وو چې د هغې تخت حاضر کړي او معجزه ورته ښکاره کړي د پاره د دې چې د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام د نبوت حقانيت (يعني رښتينولي) ظاهره شي ځکه چې د نبي معجزه په صداقت [رښتينولئ] باندې دليل وي- بعضې مُفَسِرينو اوفرمائيل چې حضرت سليمان عَلَیْہِ السَّلَام اوغوښتل چې د بلقيس د راتلو نه مخکښې د هغې د تخت شکل او صورت بدل کړي او په دې سره د هغې د عقل امتحان واخلي چې هغه خپل تخت پيژندے شي او که نه- نو هم دغسې هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام خپلو درباريانو ته اوفرمائيل کوم چې په قرآنِ کريم کښې څه داسې بيان کړے شوي دي:

قَالَ یٰۤاَیُّهَا الْمَلَؤُا اَیُّكُمْ یَاْتِیْنِیْ بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ یَّاْتُوْنِیْ مُسْلِمِیْنَ ﴿۳۸﴾ قَالَ عِفْرِیْتٌ مِّنَ الْجِنِّ اَنَا اٰتِیْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ مِنْ مَّقَامِكَ ۚ وَ اِنِّیْ

ترجَمهٔ كنزُ العرفان: سليمان اوفرمائيل: اے درباريانو! په تاسو کښې څوک دي چې زما خوا ته د فرمانبرداره کيدو سره د راتلو نه مخکښې د هغې تخت زما خوا له

عَلَيۡهِ لَقَوِیٌّ اَمِیۡنٌ ﴿۳۹﴾

(پ 19، النمل:39،38)

راوړي- يو ډير خبيث [1] جن اووئيل چې زه به هغه تخت ستاسو په خدمت کښې ستاسو د دې ځائے نه د اودريدو نه مخکښې حاضر کړم او زه بے شکه په دې باندې طاقت لرونکے يم، امانت دار يم-

د جن بيان ئې چې واوريدلو نو حضرت سليمان عَلَيۡهِ السَّلَام اوفرمائيل: زه دا غواړم چې د دې نه هم زر هغه تخت زما دربار ته راشي- دا ئې چې واوريدل نو د هغوئې وزير حضرت آصف بن بَرخِيا رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چاته چې اسمِ اَعظَم معلوم وو يو د کرامتو والا ولي وو- هغوئې حضرت سليمان عَلَيۡهِ السَّلَام ته عرض اوکړو د کوم چې په قرآنِ کريم کښې څه داسې بيان دے- 19 سيپاره سورۃ النمل آيت نمبر: 40

قَالَ الَّذِیۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمٌ مِّنَ الۡکِتٰبِ اَنَا اٰتِیۡکَ بِهٖ قَبۡلَ اَنۡ یَّرۡتَدَّ اِلَیۡکَ طَرۡفُکَ ؕ

(پ 19، النمل: 40)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: هغه عرض اوکړو د چا سره چې د کتاب عِلم وو چې هغه به زه ستاسو په بارګاه کښې د سترګو د رَپ نه مخکښې راوړم-

حضرت آصف بن بَرخِيا رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په روحاني طاقت سره د بلقيس تخت د

---

[1] ... خبيث: غټ سرکش (معرفۃ القران، ص 304)

سبا ملک نه بيتُ المقدس ته د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام محل ته راښکلو او هغه تخت د زمکي د لاندي راوړے شو او په لږ وخت کښي يو دَم د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د کرسئ سره نزدي راښکاره شو۔

(عجائب القرآن مع غرائب القرآن، ص 189، 190۔ سيرت الانبياء، ص 714)

د الله رَبُّ العزّت دي په هغوئي باندي رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دي زمونږه بے حسابه بخښنه وي۔

آمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** چرته چي په دي واقعه کښي د حضرت آصف بن بَرخِيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کراماتو بيان دے نو هلته په قرآنِ کريم کښي د هغوئي د کمال لرلو د خاصيت "علم" بيان کړے شو۔ عِلمِ دين ډير لوئي افضل عبادت دے لکه څنګه چي د حضرت عبدُ الله بن مبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړے شوه چي انسانان څوک دي؟ اوئي فرمائيل: عُلماء۔ بيا تري پوښتنه اوکړے شوه: بادشاهان څوک دي؟ اوئي فرمائيل: پرهيزګاره۔ بيا تري پوښتنه اوکړے شوه: احمقان څوک دي؟ اوئي فرمائيل: څوک چي د دين په بدل دنيا حاصلوي۔

(المجالسة وجواهرالعلم للدينورى، 160/1، رقم:300)

سيِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې قول لاندې فرمائي: حضرت عبدُ الله بن مبارَک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عِلم نه لرونکي انسانان په دې کښې اونه شميرل ځکه چې عِلم هغه خاصيت دے د کوم په وجه چې انسانان د ټولو ځناورو نه غوره وي- ځکه انسان د دې صفت په ذريعه انسان دے د څه په وجه چې هغه ته عزت حاصليږي- هغه د جسماني قوت په وجه انسان نه دے ګني نو د اوښ نه زيات طاقتور نه دے- نه د بدن په وجه انسان دے ګني نو د هاتي بدن ډير زيات غټ دے- نه د بهادرئ په وجه ګني نو حيوانات د ده نه زيات بهادر دي- نه په دې وجه باندې چې دا ډير زيات خوراک کوي ځکه چې د غوئي ګيډه د ده نه زياته غټه وي بلکه انسان د عِلم د پاره پيدا کړے شوے دے- (احياء العلوم (مترجم) ،51/1 بتغير) الله پاک په قرآنِ کريم، 20 سيپاره سورة العنکبوت، آيت نمبر 43 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ تِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِۚ وَ مَا يَعْقِلُهَاۤ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ۝۴۳ (پ 20، العنکبوت:43) | ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او دا مثالونه کوم چې مونږه د خلقو د پاره بيانوو او په دې باندې هم عالِمان پوهيږي- |

## د دين ستَن

په حديثِ پاک کښې دي: د الله پاک يو عبادت داسې اونکړے شو کوم چې د دين د پوهې حاصلولو نه افضل وي او يو فقيه (يعني عالِم) په شيطان

باندې د زرګونو عبادت کوونکو نه زیات درونـد دے- د هر څیز یوه ستَن وي او د دې دین ستَن فقه ده- ( معجم الاوسط، 337/4،حدیث:6166) په یو بَل حدیثِ پاک کښې دي دوه خاصیتونه داسې دي کوم چې په یو منافِق کښې نه وي: ښه اخلاق او د دین پوهه- (ترمذی، 313/4، حدیث: 2693)

## د دین د عالِم معیار؟

امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: په دې حدیث کښې د فقه نه مراد هغه نه دے کوم چې تاسو ګنړئ- د فقیه [عالِم] د کمو نه کمه درجه دا ده چې هغه د دې خبرې یقین اوساتي چې آخِرت د دنیا نه بهتر دے او که چرې په هغه باندې د دې خبرې معرِفت ربښتونے او غالب شي نو د دې په برکت سره به هغه د نِفاق او رِیا نه پاک شي-

(احیاء العلوم(مترجم)،46/1)

## د لقمانِ حکیم وصیّت

نقل دي چې حضرت لقمانِ حکیم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې خپل ځوي ته کوم وصیتونه اوفرمائیل په هغې کښې یو وصیت دا هم وو چې ځویه د علمائے کرامو په صحبت کښې کښېنه ځکه چې الله پاک د حکمت په نُور باندې زړونه داسې ژوندي کوي لکه څنګه چې زمکه په پرله پسې په باران-

(مؤطا امام مالک ، 478/2، حدیث:1940)

## د زړه غِذا

حضرت فَتح مَوصَلي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خلقو نه پوښتنه اوکړه: که چرې مريض د خوړلو، څښلو او دوائيۍ نه منع کړے شي نو آيا هغه به نه مړ کيږي؟ خلقو اووئيل: ولې نه- اوئې فرمائيل: د زړه هم دا معامله ده چې که چرې درې ورځې د ده نه علم او حکمت لرې کړے شي نو دا مړ کيږي-

( التذکرة فی الوعظ لابن جوزی، ص56)

امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت فتح موصلي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بالکل صحيح اوفرمائيل ځکه چې لکه څنګه خوراک د بنده غِذا ده هم دغه شان علم او حکمت د زړه غِذا ده د کومې په وجه چې زړه ژوندے وي او د چا سره چې عِلم نه وي د هغه زړه بيمار او د هغه مرګ لازمي دے- خو هغه ته د دې خبرې پته نه وي ځکه چې د دنيا محبت او د دې مشغولا د دې احساس ختم کړي لکه څنګه چې د ويرې د غَلَبې په وخت د زخم د تکليف احساس نه کيږي اګرچه تکليف موجود وي- بيا چې کله مرګ د ده نه د دنيا بوج لرې کړي نو بيا دا خپل هلاکت محسوسوي او ډير پښيمانه کيږي خو بيا دا د ده په حق کښې بے فائدې وي- دا داسې ده لکه چې په نشه کښې مست ته د نشې او ويرې په حالت کښې لګې د زخمونو احساس هغه وخت کيږي کله چې هغه د ويرې او د نشې نه خلاصے بياموي- مونږه د پردو د پرانستو د ورځې نه د الله پاک سره پناه

غوارو- بے شکه خلق اوده دي کله چې مړه شي نو د دوئي سترګې به اوغړیږي-

(احیاء العلوم (مترجم)، 51/1)

عیب دُنیا میں تو نے چھپائے　　حشر میں بھی نہ اب آنچ آئے
آہ! نامہ مِرا کھل رہا ہے　　یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے

## لباسِ حیاء

الله پاک په 8 سیپاره سورۃ الْاَعْراف، آیت 26 کښې ارشاد فرمائي:

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَ رِيْشًا ؕ وَ لِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ

(پ 8، الاعراف:26)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: اے د آدم اولاده! بے شکه مونږه ستاسو په لور لِباس هغه نازل کړو کوم چې ستاسو د شرم ځیزونه پټوي او (یو لباس هغه کوم چې) ډَوَل او سینګار دے او د پرهیزګارئ لباس د ټولو نه بهتر دے-

یو قول دا دے چې په دې آیت کښې د "لِبَاسًا" نه علم د "رِيْشًا" نه یقین او د "لِبَاسُ التَّقْوٰى" نه مراد حیا ده-

د حضرت وَهب بن منبه یَماني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روایت دے چې " ایمان بے جامو دے، د دې جامې پرهیزګاري ده، او د دې سینګار حَیا او د دې میوه عِلم دے-

( احیاء علوم ، 20/1)

## د ښار د حاکِم سره د میلاویدو وخت نشته

عظیم تابعي بُزُرګ حضرت سالم بن ابو جَعد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بیانوي چې زه زما مالک په 300 درهمه واخستم او آزاد ئې کړم نو ما سوچ اوکړو چې اوس کومه پیشه اختیار کړم؟ آخِر د عِلمِ دین په حاصلولو کښې مشغول شوم- اوس لا کال هم نه وو تیر شوے چې د ښار حاکِم زما سره د ملاقات د پاره راغلے خو ما هغه له اجازت ورنکړو-

( فیض القدیر، 552/3، تحت الحدیث: 3827)

(د یو بُزُرګ فرمان په داسې معامله باندې ښکاره صادق راځي) حضرت ابو اَسوَد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: د عِلم نه زیات عزت والا بَل هیڅ څیز نشته- بادشاهان په خلقو باندې حکومت کوي او عالِمان په بادشاهانو باندې حکومت کوي-

(احیاء العلوم (مترجم)، 50/1)

## د فضیلت لغوي او اِصطِلاحي معنیٰ

امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: لفظ "فضیلت" د فَضل نه اخستے شوے دے او فَضل زیاتیدو ته وئیلے شي- کله چې دوه څیزونه په یوه خبره کښې مُشتَرک (یعني یو شان) وي او په دې کښې یو د څه زیاتي خبرې سره خاص وي نو وئیلے شي چې دا د هغه نه اَفضل دے او دې ته په هغه باندې فضیلت حاصل دے او هغه اضافي خبره په د کښې موجوده وي

کومه چې د ده د پاره د کمال خبره وي- لکه څنګه چې وئیلے شي: آس په خَر باندې فضیلت لري ځکه چې د بوج اوچتولو په طاقت کښې آس او خَر خو برابر دي خو په حمله کولو، منډه وهلو، د سختې حملې کولو په طاقت او د ښه صورت خوبیانې په آس کښې زیاتې دي- اوس فرض کړئ که چرې خَر د زیاتې سامان سره خاص کړے شي نو دا نشي وئیلے کیدے چې ده په آس باندې فضیلت حاصل کړو ځکه چې دا جسماني زیاتوالے دے خو په حقیقت کښې کمے دے کوم چې په حقیقت کښې د هیڅ کمال خبره نه ده، ځکه چې په ځناور کښې بدن نه بلکه معنوِیَّت (یعني اصلیت) او د هغه صفتونه مقصد وي-

نور فرمائي: عِلم ته د خپل ذات په لحاظ سره د چا طرف ته د اِضافت [یعني زیاتوالي] کولو بغیر مطلقاً فضیلت حاصل دے ځکه چې دا د الله پاک د کمال صفت، د انبیائے کِرامو او د فرښتو عَلَیۡهِمُ السَّلَام شرف دے-

(احیاء العلوم، 29/1 ملتقطا)

## د خوښې د څیز طرف ته د رغبت وجه

امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: یاد ساتئ چې داسې بهترین څیزونه د کومو د حاصلولو چې شوق وي د هغې درې قسمونه دي-

(1) داسې څیز د کوم د حاصلولو مقصد چې په څه بَله وجه وي لکه روپئ پیسې، په اصل کښې روپئ پیسې د کاغذ ټوټې دي د دې هیڅ فائده

نشته ځکه چې د کاغذ د نوټ په خوړلو نه خو ګیډه مړیږي او نه تنده ماتیږي، که چرې الله پاک د دې په ذریعه باندې زمونږه د ضرورتونو حاصلول آسان نه وو فرمائیلي نو دا نوټ او د رَدّئ کاغذ به برابر وو۔ (احیاء العلوم، 29/1 بتغیر) د حضرت وَهب بن منبه رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ نه چې د درهم او دینار په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئي اوفرمائیل: دا د انسان د وخت تیرولو د پاره په زمکه کښې د الله پاک مُهرونه دي، نه خوړلے کیږي نه څښلے کیږي تاسو چې دا چرته هم وړئ ستاسو ضرورت به پوره کیږي۔

(حلیة الاولیاء، 57/4، رقم: 4729)

(2) هغه څيز د کوم د حاصلولو مقصد چې پخپله هغه څيز وي لکه د آخِرت کامیابي او د الله پاک د دیدن مزه۔ د الله پاک په عطا کړے شوؤ نعمتونو کښې د ټولو نه افضل او اعلیٰ دا قِسم دے۔

(3) هغه څيز د کوم د حاصلولو مقصد چې پخپله هغه څيز هم وي او کله د هغې نه یو بَل څيز هم حاصل شي لکه څنګه چې انسان غواړي چې د هغه بدن سلامت پاتې شي ځکه چې که چرې د هغه خپه زخمي شي نو د تکلیف سره سره د هغه د ژوند د ضرورتونو په کارونو کښې هم ستونزې راځي ته کیږي ځکه بنده کوشش کوي چې د هغه بدن سلامت وي۔

اوس په دې لحاظ سره چې عِلم ته اوګورئ نو عِلم د خپل ذات په لحاظ

سره خوندور دے ځکه هغه په دويم قِسم کښې شامل دے (کوم چې د ورومبي نه افضل دے) دا د آخِرت او د دې د کاميابئ وسيله او الله پاک ته د نزدې کيدو ذريعه ده ځکه چې د دې نه بغير الله پاک ته نزدې کيدل نه حاصليږي- د انسان په حق کښې سعادتِ اَبَدي (يعني د هميشه د پاره د سعادت مندئ) مرتبه د ټولو نه اوچته ده او د دې وسيله د ټولو نه افضل ده او د هميشه د پاره سعادت مندي د عِلم او عمل نه بغير نه شي حاصليدے او چې د عمل د کيفيت علم نه وي نو تر عمله پورې نه شې رسيدے- پته اولګيده چې د دنيا او د آخِرت اصلي سعادت "علم" دے ځکه دا د ټولو نه افضل دے- (احياء العلوم، 29/1، اتحاف السادة، 1/ 187-190 ملخصاً) په يو روايت کښې دي: ستاسو په دين کښې افضل عمل هغه دے کوم چې د ټولو نه آسان وي او دين زده کول د ټولو نه افضل عبادت دے-

(جامع بيان العلم وفضله، حديث:80، ص34)

## د مال نه بهتر

د مسلمانانو څلورم خليفه، اميرُ المؤمنين حضرت عليُّ المرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حضرت کُمَيل بن زياد نخعي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ته اوفرمائيل: اے کُمَيله! علم د مال نه بهتر دے چې علم ستا حفاظت کوي خو ولې د مال حفاظت به تاته کول وي- علم حاکم دے او مال محکوم- مال د لګولو سره کميږي او علم د لګولو سره زياتيږي-

(الفقيه و المتفقه، 182/1، حديث: 176)

نور ئي اوفرمائيل: ټوله شپه د عبادت کوونکي، ټوله ورځ د روژه لرونکي مجاهد نه عالم افضل دے او د عالم په مرګ په اسلام کښې داسې خلا پيدا کيږي کومه چې د هغه د نائب نه بغير بَل څوک نه شي پوره کولے۔

(الفقيه و المتفقه، 197/2، حديث: 856)

هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يو څو شعرونه اووئيل په کومو کښې چې دا هم دے: د علم په ذريعه کاميابي حاصله کړئ د هميشه ژوند به بيامومئ۔ خلق مړه کيږي خو عالِمان ژوندي پاتي کيږي۔

(الفقيه و المتفقه، 150/2، حديث: 769)

## سختي به آسانې شي

حضرت زُبَير بن ابوبَکر رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بيانوي چې زه په عراق کښې ووم زما والد محترم ماته پيغام راوليږو چې عِلم لازمي [حاصِل] کړه! که چرې غريب ئې نو دا ستا مال دے او که چرې غني [مالداره] ئې نو دا ستا جمال [ښائست] دے۔

(احياء العلوم، 24/1)

په يو روايت کښې دي: څوک چې علمِ دين حاصل کړي الله پاک به د هغه سختي آساني کړي او هغه له به د هغه ځائے نه رزق ورکړي د چرته نه چې به د هغه ګُمان هم نه وي۔

(جامع بيان العلم وفضله، ص 65، حديث: 198)

## د دين د عالِم وفات کيدل

په حديثِ پاک کښې دي: عالِم په زمکه باندې د الله پاک اَمين وي۔ (جامع بيان العلم وفضله، ص 74، حديث: 225) په يو بَل روايت کښې دي: د يوې قبيلې مرګ د يو عالِم د مرګ نه آسان دے۔

(شعب الايمان، 2/264، حديث: 1699)

د چا عقلمند قول دے چې د عالِم په وفات باندې په اوبو کښې مهيان [کبان] او په هوا کښې مرغئ ژاړي۔ د عالِم مخ غائب شي خو د هغه يادونه باقي پاتې وي۔

(احياء العلوم، 1/24)

## د عِلم د آخِرت فائده

امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: عِلم په دې وجه باندې هم افضل دے چې تاسو ته پته وي چې د يو څيز نتيجه به څومره د عظمت او شان والا وي هغه څيز به هم هغه همره فضيلت والا وي او تاسو ته پته لګيدلې ده چې د علمِ دين د آخرت فائده د الله پاک نزدې والے ميلاويدل دي خو په دنيا کښې د دې فائده دا ده چې په عزت او وقار کښې زياتوالے او په طبيعتونو کښې په ضروري طور باندې احترام کول بيامونډلے شي۔ دا مطلق د عِلم فضيلت دے۔ بيا عِلمونه مختلف دي، چې کله عِلم په افضلو چارو کښې دے نو د ده حاصلول د افضل کارونو لټول او او زده کول د افضل کار فائده رَسَوَل اوګرځيدل۔

(احياء العلوم، 1/29 ملتقطاً)

## د عالم د خلورو حرفونو په نسبت سره څلور حديثونه مبارک

(1) هغه عالِمِ دين ډير ښه دے که چرته د هغه ضرورت پيښ شي نو نفع رسوي او که چرته د هغه نه بے پروائي وي نو ځان بے نيازه اوساتي-

(مشكاة المصابيح، 67/1، حديث: 251)

(2) د عالِم او د عابد په مينځ کښې 100 دَرَجې دي او د هرو دوؤ درجو په مينځ کښې دومره فاصله ده لکه څومره مزل چې يو ښه تيار کړے شوے آس تر د 70 کالو پورې په منډه وهلو سره کوي-

(جامع بيان العلم وفضله ، ص 43، حديث: 118 )

(3) په حديثِ پاک کښې دي: مومن عالم په مومن عابد باندې 70 دَرَجې زيات فضليت لري-

(جامع بيان العلم وفضله، ص 36، حديث: 84)

(4) په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! افضل عمل کوم يو دے؟ خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: **اَلْعِلْمُ بِاللهِ-** عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو کوم عِلم مُراد اخلئ؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: د الله پاک د ذات عِلم (يعني د الله پاک معرفت يعني د پيژندلو عِلم) عرض اوکړے شو: زمونږه پوښتنه د عمل په باره کښې ده خو تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم ارشاد فرمائيئ؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: چې د الله پاک د ذات عِلم وي نو لږ شان عمل هم فائده رسوي او که چرې دا نه وي نو زيات عمل هم د فائدې نه خالي وي-

(احياء العلوم، 22/1)

## د دنيا او د آخِرت د خير نه څه مراد دے؟

عظيم تابعي بُزُرګ حضرت حسن بصري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د الله پاک د دې ارشاد

رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ (1)

په تفسير کښې فرمائي: په دنيا کښې د "حَسَنَةً" نه مراد علم او عبادت دے خو په آخِرت کښې د دې نه مراد جنت دے۔

(ترمذی، 295/5، حديث: 3499)

## د عِلمِ دين په فضيلت باندې مشتمل د بُزرګانِ دين اقوال

(1) د مسلمانانو دويم خليفه، اميرُ المُؤمنين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوفرمائيل: اے خلقو! په تاسو باندې عِلم حاصلول فرض دي۔ بے شکه د الله پاک يو خادر محبت دے او څوک چې د عِلم يو باب حاصل کړي الله پاک هغه ته هغه خادر اچوي۔

(جامع بيان العلم وفضله، ص 83، حديث: 251)

(2) حضرت عبدُ الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوفرمائيل: عِلم زده کړئ د دې نه مخکښې چې اوچت کړے شي او د عِلم اوچتيدل دا دي چې عالمان به وفات شي۔ په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ځان دے! د الله په لاره کښې وژلے شوي شهيدان چې کله د عالمانو مقام اووينې نو آرمان به کوي چې کاش! دوئي هم عالمان پورته کړے

---

[1] ...ترجَمهٔ کنزالعرفان: اے زمونږه رَبّه! مونږ له په دنيا کښې خير راکړې او مونږ له په آخرت کښې (هم) خير راکړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه بچ کړې۔

شوے وے- (احياء العلوم، 23/1) خوک هم عالِم نه پيدا کيږي، علِم د زده کولو سره راځي-

(کتاب الزهد للام احمد، ص 184، حديث: 899)

(3) حضرت عبدُ الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: د شپې لږ سعت د عِلم تکرار کول د ټولې شپې د ويخې تيرولو نه زما زيات خوښ دي- (داسي د حضرت ابو هُريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه هم نقل دي-)

(احياء العلوم، 23/1)

(4) حضرت حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د عالمانو سياهي به د شهيدانو دويني سره تَلَلے شي نو د عالمانو سياهي به د شهيدانو د ويني نه درَنه وي-

(احياء العلوم، 23/1)

(5) د حضرت اَحنَف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قول دے چې ډير زر به عالمان مالکان جوړ شي او د هر هغه عزّت انجام ذِلت وي کوم چې په عِلم سره مضبوط نه کړے شي-

(عيون الاخبار للدينوری، ص: 137)

(6) حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: د عِلم د عظمت اندازه د دې خبرې نه لګيدے شي چې د چا طرف ته دا منسوب وي که هغه په وړه خبره کښې ولې نه وي، نو هغه خوشحاله وي او د چا نه چې دا اوچت کړے شي هغه غمژن شي-

(احياء العلوم، 23/1)

(7) د یو عالِم قول دے چې کاش! ماته معلومه شي چې چاته عِلم میلاؤ نه شو [نو] هغه ته څه میلاؤ شول او چاته چې عِلم میلاؤ شو [نو] هغه ته څه میلاؤ شول-

(احیاء العلوم، 23/1)

(8) د چا عقلمند نه پوښتنه اوکړے شوه چې کوم څیزونه جمع کول پکار دي؟ جواب ئې ورکړو: هغه څیزونه چې کله ستا کشتئ ډوبه شي نو هغه ستا سره لامبو وهي يعني عِلم- (جامع بیان العلم وفضلہ، ص 80، حدیث: 246)

بعضو اووئیل: د کشتئ د ډوبیدو نه مراد د مرګ په ذریعه د بدن هلاکیدل دي-

(احیاء العلوم، 23/1)

وئیلے شوي دي چې څوک حکمت واکې جوړي کړي خلق هغه امام جوړ کړي او څوک چې په حکمت پوهه شي خلق هغه ته د عزّت په نظر ګوري-

(جامع بیان العلم وفضلہ، ص 80، حدیث: 246)

# اگلے ہفتے کا رسالہ




فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، زره سبزي منڈهي كراچي
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com